AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال ۲۰۲۳/۱۰/۰۴

# که انسان نه وي، تاریخ به نه وي

## ځلورمه برخه

لرغوني مدنیتونه :

دې کې شک نشته، چې د تاریخي پېر په پیدایښت کې د لیک لوست ونډه موهمه ده، ولې نور لاملونه هم له پامه نشي غورځېدی.
لکه څرنګه چي له تاریخ نه د مخه پېر ، په مهال د لومړنی، مینځنی او معاصرې دېرې اوبیاورپسي دفلزي دورې وده او پرمختګ د هغه وخت د ټولنیزو بیلابیلوفعالیتونواو ارزښتونو په ترڅ کې د وخت دپرمختګ موهم توکي ول ، همدا رازبیا د لیک لوست پیدایښت، د تمدن زوکړه اوبراختیا، د کار وسیلي او د ژوند اسانتیاوې، له طبعي او بشري قواوونه سمه ګټه اخستل، د خپلو تجربو او پېښو لیږد، د طبیعت بدلون اود ټولنیز ژوند د ښېګڼو پېژندنه، چي تردغه وخته چا نه وو لیدلي د پام وړ لاملونه ول.
دا خبره پخپل ځای ده، چې د لیک لوست اختراع له یوې خوا د انسان د معنوي ارزښتونو له مجموعي څخه یوه ستره وسیله وه،چي دا یوه زهني شتمنی ګڼلی شو ، خو له بلې خوا انسانانو، چي کوم مادي او معنوي ارزښتونه تر لاسه کړل او بیا یې د همدې لیک لوست په وسیله راتلونکي نسل ته په میراث پرېښودل ، یوارزښتنا که پر مختګ یې بللی سو.
د تاریخي پېر څېرونکی پدې ټینګار کوي، د انساني ټولنی تاریخي دوره چي د مدنیت پېر هم دی او هغه وخت شروع کیږي، چي د لومړي ځل لپاره لیک ، که هغه هر لیک وه او د لیکدود هره بڼه یې در لوده ،انسان یې په موندلو او کښلو بریالی شو...
د لیک په موندلو د تاریخ موخه هم څرګنده شوه ، مانا دا چې د پېښي د وخت ټاکل او ښکاره کول اودیوه ټاکلي زمان اومکان په ګوته کول وو.
د تاریخ په یوه تعریف کې هم دې پا یلې ته رسېږو،چي وو ایو تا ریخ سامي ریښه لري او د ټولنیزی ودې او پرمختګ ټاکلی بهیر ته چي مکان او زمان په ګوته کړي تاریخ وایي.
دا چي د یو شمېر تاریخپوهانو په اند د تاریخ پېر ته د تمدن پېروایي، بیا نو همدغه تمدن وو، چي د بشري ټولني د تکامل او پرمختګ بهیر یې چټک کړ، خو دغه خوځښت او نوښت په ټولو هېوادونو کې یوشان نه وو، دساري په توګه :
۱ ــ د تمدن لومړی ټاټوبی د اسیا په وچه کي کلده او بین النهرین ګڼل شویدی، چي له زیږدي نه پنځه زره کاله د مخه شروع شویدی او یو شمېر علومو ته یې لاره پرانسته.
۲- د افریقا په وچه کي د مصر هېواد وه چي له زیږدي نه درې زره کاله د مخه موده په ګوته کوي او پدې اند چي په مصر کې هم د کلدی په څېر طب، ریاضی، نجوم، هندسي او نورو علومو وده کړې وه.
۳- فنقیانو، فلسطین، اسرائیل او د مدیترانې یو شمېر هېوادونه ول چي له میلاد نه دوه زره کاله د مخه یې په مدیترانې او تور سمندرګی کې سوداګریز فعالیتونه پیل کړل.
۴- د چین او هندو چین هېوادونو هم له زیږدي نه دوه او درې زره کاله دمخه د یوه پرمختللي تمدن بنسټ کېښود، چې مونږ د کاغذ اختراع، باروت جوړول د لاسي صنعت وده او د سوداګریزو توکو لیږد او را لیږد او نور یادولي شو.
۵- د اریایانو تمدن چي پلازیې بخدیم وو او د هندوکش دواړو غاړو ته یې (له زیږدي نه ، له دوه زرو راواخله تر درې زره کالو د مخه) د نوی تمدن بنسټ کېښود. لکه د کرهنې پراختیا، د لاسي ضایع پرمختیا، طب، نجوم، فلز کاری او نور د یادولو وړ دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د تاریخي پېر په رڼا کې د دې بېلابېلو تمدنونو وده او پرمختګ نه یوازې په یادو سیمو کې ایسار پاتې شو بلکې د نړۍ نورو هېوادونو ته یې هم لاره وکړه.
دغو تمدونونو او پرمختګونو که له یوې خوا د بشري ټولنی ودې او پرمختګ ته زمینه برابره کړه، خو له بلې خوا یې د بنیګڼو په څنګ کې بد ګڼي او یو شمېر تولنیزي ستونزې هم رامینځته کړي، چې پای کې یو شمېر داسې سیاسي ناخوالي او ستري تاریخي پېښي یو د بل پسې وزېږولي چې بیا تاریخپوهانو د دغو سترو او درنو پېښو پر بنسټ تاریخي پېښي او تاریخي دورې داسې په ګوته کړي چې لا ټوله نړۍ په یوه خوله نه وه ،ولي بې ارزښته هم نشو ګڼلی:
۱ – لومړنی لرغوني پېړی ،

د تاریخ دغه لومړنی پېر، چې د لیک له پیدایښت نه پیلیږي او تر ۳۹۵ زېږدیز کال پورې، یاني کله چې د روم امپراتورئ په دوه ( ختیزې او لویدیزې) برخو وېشلی کیږي، رسیږي.
که مورږ د ساري په توګه د لیک د پیدایښت نېټی له میلاد نه اوه زره کاله پخوا وبنیو، نو د تاریخ یوه اوږده دوره ګڼل کیږي. ولي یو شمېر لرغونپوهان او څېړونکي د تاریخ دغه پېر ته «قرون اولی وایی» چې له ۳۳۰۰ مخزیږدی نه پلېږي اوتر۳۹۵ م پورې دوام پیدا کوي.

۲- مینځنی پېړی ،

دا د تاریخ هغه پېر دی چې د بیزانس او یا د روم د ټولواکمنی له تجزې نه وروسته شروع کیږي او تر ۱۴۵۲ ز کال پورې دوام کوي. د دغه کال موهمه نړیواله پېښه د عثماني ترکیې له خوا د قسطنطني فتحه وه.

۳- نوې پېړی،

دا ستامبول له پرانیستي (۱۴۵۳ ز کال) او یا د امریکا (۱۴۹۲ کال) له کشف نه وروسته نوې پېړۍ چې رنسانس یې هم بولي له یادې نېټې پیلیږي او د فرانسې تر لوې انقلاب (۱۷۸۹ ز کال) پورې دوام کوي.

۴- اوسنی پېړی

دغه تاریخي پېر له ۱۷۸۹ ز کال یاني د فرانسی لوی انقلاب نه وروسته شروع کیږي او تر اوسه پورې دوام مومي، چې پدې سره د دموکراسی یو نوی خوځښت هم مینځته راځي.
که څه هم د تاریخ دغه وېش د ټولی نړۍ او ټولو تاریخپوهانو لپاره د منلو وړ ندی. یو شمېر د لویدیزو او ختیزو هېوادونو سیاست پوهان یو شمېر تاریخی، اقتصادي او سیاسي پېښې د تاریخي دورو د ټاکلو لپاره د پام وړ او یا ټاکوونکی ګڼي .
د مثال په ډول په ۱۴۹۲ ز کال د امریکا کشف، صنعتی انقلاب او ۱۹۱۷ کال اکتوبرانقلاب اونورې پېښې د ساري په توګه یادولی شو.
خو د دې ټولو اندونو، پرمختګونو او څرګندونو سره سره، کوم څه چې د یو شمېر یادو تاریخپوهانو په څېړنو کې هم د پام وړ دي، هغه نړیوال مهاجرتونه دي چې ګڼ شمېر توکمونه او بشري ټولنی د یو شمېرټولنیزو نا خوالو له مخی له یوې سیمې نه بلې سیمې ته کډه شویدی، چې په دغه لړ کې یو هم اریایي ټبر دی چې د هندوکش په شمال کې خواره واره شول.
خو پخوا تر دې چې د اریایانو تاریخي بهیر او اریایي تمدن ته سر ورښکاره کړو، غوره به وي چې د یادو تمدنونو او پرمختګونو بېلابېلو حوزو او سیمو ته تم شو او په لنډیزې یادونه وکړو .

بین النهرین

دغه سیمه د دوه رودونو په مینځ کې پرته ده. د دجلې او فرات پنوم دوه موهمی درې دی چې غرونه غرونه رودونه پکې بهیږي.
د بین النهرین په شمال، یاني د دجلې او فرات مرکزي برخه چې شمال ختیز ته یې عراق پروت دی کردي وګړي پکې استوګن دي.
په لرغوني زمانه کې د (اشور=اثور) پنوم یادېد، په ښکتنی برخه کې چې د دجلې او فرات سیندونه یو بل ته غاړه ورکوي او سره نږدی کیږي ، د «کلده» پنوم یو دولت شتون درلود او په دوه برخو «سومر» او «اکد» وېشل کېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د بین النهرین په لاندینۍ برخه کې د سومر سیمه پرته ده، ولې د اکد سیمه د سومر له شمال نه تر اوسني بغداد پورې موقعیت درلود او همدارنګه د بابل دولت هم د کلدې پدغه سیمه کې وو.
د کندنو له مخې د بین النهرین تاریخ، د لرغونپوهانو په اند، له میلاد نه دمخه ۵۰۰۰ کاله شاوخوا ته رسیږي. کوم قومونه، چې په بین النهرین کی اوسېدل ځانته یې په جلا جلا توګه دولتونه جوړ کړي ول، موهم یې سومریان، اکدیان، لرغونی بابلیان، اثوریان او نوي بابلیان یا دولی سو .

## ۱ – سومریان: Sumer))

سومریان د بین النهرین هغه لومړنی ټبر دی چې د (۳۵۰۰-۴۵۰۰م ز) کلونو په شاوخوا کی ښاري ژوند ته مخه کړه او د سومري تمدن بنسټ یې په بین النهرین کې کیښود.
سومریانو د پوځي ځواک پر مټ یو شمېر نور قومونه و ځپل او د جنګی اسیرانو پنوم یې غلامان کړل.
په پای کې دوی هم د خپل مینځی جګړو له امله کمزوري شول او د اکد د ټبر مشر سارګن (sargon) د سومریانو واک نسکور او له مخزیږ دي نه ۲۷۰۰ کاله د مخه یې خپل دولت جوړ کړ.

## ۲- اکدیان: (akkades)

یو شمېر تاریخپوهانو د اکدیانو او سومریانو ګډ دولت د کلده پنوم هم یاد کړیدی.
دوي د سام له نژاده وو چې له عربستان نه بین النهرین ته راغلي ول. دوئ په سهل او سومریان د بین النهرین په شمال کې ودان ول.
اکدیانو کله له سومریانو سره موازي او کله هم یو ځای دولت جوړ کړیدی. د اکدیانو نامتو واکمن «سارګن» sargon نومېده، چې سومریانو ته یې ماته ورکړه او هغوئ یې د ځان تابع کړل. ده د اکدیانو او سومریانو د یووالي پر مټ یو لوی کانال وکیښ، چې د فرات او دجله رودونه یې سره ونښلول.
د کورني اخ و ډب له مخې «ګوتیانو» gouti په اکدایانو برید وکړ (۲۲۰۰ م ز) او سخته ماته یې ورکړه . یوه موده وروسته اکدیان او سومریان بیا یو موټی شول او په (۲۰۰۷-۲۱۱۸ م ز) کال یو ګډ دولت جوړ کړ. د دوئ نامتو واکمن شوګي shougi نومیده. ده د سومریانو، اکدیانو او اثوریانو (اشور یې هم بولي) ښارونه لاندي کړل او لاسي صنایعو او کرهني ته یې ډېره پراختیا او پرمختګ وبابنه. ولې له میلاد نه (۲۰۰۰ ق م) کاله پخوا «عیلامیانو» له ختیز او اموریانو (بابلیانو) له لویدیز نه په «کلده» برید وکړ او د هغو دولت یې نسکور کړ.

## ۳- لرغوني بابلیان (اموریان Amorites)

د سامي نژاد یو بل ټبر اموریان ول، چې د عربستان او سوري له لارې یې د سومر دره لاندې کړه او د بابل په ښار کې د یوه دولت بنسټ کېښود. بابل د جغرافیوي جوړښت له مخې د مینځني ختیز، کلده، اثور، مصر، ارمنستان او د پارس د سوداګریز مرکز په توګه ډېر ارزښت درلود.
د بابل نامتو واکمن حمورابي Hammurabi (۱۷۵۰-۱۷۹۲ م ز) نومېده. ده د لومړي ځل لپاره په ټول بین النهرین کې یو واحد سیاسي نظام ټینګ کړ. د ده له خدمتونو څخه یو هم د یوه قانون بنسټ وه، هنر، لاسي صنعت، د بندونو جوړول او علومو ته یې هم ډېره پاملرنه وکړه. نږدې له درې پېړیو وروسته د بابل حکومت کمزوری شو او کاستانو (kssite) د دی وس ومومند چې هغو ته ماته ورکړي. کاستانو له مصر او له یو شمېر نورو هېوادونو سره دیپلوماتیکي اړیکي ټینګي کړي. کاستان له مخزیږدي نه ۱۱۴۰ ق م) د مخه له بین النهرین نه ووېستلی شول.

## ۴- اثوریان: (ashore)

اشوریان د بني سام له پښته وو او له مخزیږ دي نه ۲۰۰۰ کاله پخوا له لویدیز نه دی سیمی ته راغلل او د بین النهرین په شمال کې مېشت او ودان شول.
یو شمېر څېړونکي انګېري، چې اشوریان لومړی په بابل کې اوسېدل. د اشور ښار د اشوریانو پلازمېنه وه او د دجلې رود ته څېرمه اباد وو.
اثوریانو وروسته خپل پلاز «کالا kalah» ته او ورپسي یې نینوا ninive ته چې د یوه مزدک (رب النوع نینا) له نوم نه یې ریښه اخستی وه (اوسني موصل ته نږدې) ولېږداوه. دوی له زیږدي نه ۱۳۰۰ کاله دمخه د بابل حکومت نسکور کړ او یو د بل پسي اکدیان، سومریان او عیلامیانو ته ماته ورکړ او د ځان تابع یې کړل.
د اشوریانو د واک لمن تر فنقیه او مصر پورې وغوځېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

اشوريان د خپل واک په مهال ځو واري له ځواکه غورځېدلي دي، ولي بيا هم بل ځل قدرت ته رسيدلي دي.
خو په پاې کې د پرلپسي پاڅونونو له کبله چي څلويښت کاله يې دوام وکړ، اشوريان دومره کمزوري شول، چې د ماديانو واکمن سياګذار cyaxar او کلدانی شهزاده نبو پلازار nabo plazar يو ايتلاف جوړ کړ او د مخزيږدی په ۶۰۶ کال د اشوريانو واک پاي ته ورسيد.

۵- نوي بابليان

د اشوريانو له ماتي وروسته، کلده يو ځل بيا د سياست ډګر ته را ورانديې شول اونږدې د يوې پيړې په (۵۳۹-۶۰۶ م ز) شاوخوا کی د واک او ځواک ښښتن ول.
پدغه مهال دوئ په نړۍ کې د يوه ستر تمدن خاوندان وو، د نوي بابل موسس نبو پلازار د څلوېښتو کالو په شاوخوا کی حکومت وکړاو له ده وروسته زوي يې دوم نبو کد نصر nabuchad nassar، چې د بخت نصر پنوم شهرت لري واک ته ورسېد.
دوم نبوکد نصر او يا بخت نصر د کلدانيانو يو ځواکمن او پياوړی پاچا وو، چې سوداګريزي چارې يې له مېنځني ختيځ نه تر پارس خليج او د ابيض تر سمندرګي پورې پراخي کړې.
ده ټول بين النهرين ونيو. سوريه ، فلسطين او فنقيه يې يو د بل پسي لاندې کړل او مصريان يې له شامه ووېستل. ده چې کوم اسيران په جنګ کې نيولی ول، د هغوی په مټ يې د بابل ښار چې دمخه زيانمن شوی وه داسي ورغاوه چېد پلا زميني په توګه يي په هغه مهال ختيځ کې ساری لږليدل کېده.
بخت نصر ۴۳ کاله حکومت وکړ او بابل يې د واک او تمدن له مخې په ټولي نړۍ په ځانګړې ډول ختيځ کې د ځانګړي پرتم او دب دبي خاوند کړ.
که له يوې خوا يې بابل د عجايبو ښار کړ، خو له بلې خوا يې د مالياتو درون پيټۍ بيګارونه او نور ظلمو نه يې دې کچې ته ورسېدل ، چې په ټوله امپراتورۍ کې پاڅونونو ته لاره پرانسته خو د بنو کد نصر له مړيني وروسته، دغه پاڅونونه دومره پراخ شول، چې په پای کې د پارس ټولواکمن کوروش «Cyrus» د مخزيږدي په ۵۳۹ کال د بابليانو امپراتورۍ ړنګه کړه.
په ټول بين النهرين کي د يادو قومونو د واک او ځواک په مهال کوم پرمختګونه چې د تمدن په برخه کې سر ته رسېدلي دي، د څو بېلګو يادونه يې کوو، چې په سياسي، اقتصادي او کلتوري برخه کې ترسره شوي دي:
يوځي پرمختګ، اقتصادي پرمختيا، کرهنيزه وده، مذهبي ارزښتونه، سوداګريزې هڅې، د لاسي صنعت پراختيا، د علومو زده کړه، د کانالونو ايستل، د کورونو جوړول، بېلابېلي رغاوني له لرګيو، ډبرو او له فلزاتو نه د بېلابېلو توکو تيارول، د خپلواکی هڅې، قانون جوړول، پاڅونونه، نقاشي، مجسمه جوړول، ادبي نوښتونه، کتابتونه او نور پرمختګونه د پام وړ ول.
دلته موهمه بريښي، چې د دوهم بخت نصر يادونه وکړو، ځکه چې دغه بخت نصر د «نابو پولا سار» nabopolassar زوی وه، چې د کلده سلطنت بنسټ يې کېښود او له ۶۰۵ مخزيږدي نه تر ۵۶۲ م ز پورې حکمراني وکړه. ده په ۶۰۰ م ز کال چې پلار يې لا ژوندی وو د يوه پياوړي پوځ بنسټ کېښود.
د مصر فرغون دويم نيکوی ته يې ماته ورکړه ،سوريه او فلسطين يې ونيول. حال دا چې فلسطين د يهودي پاچا «جي هوياکيم jehoiakim تر واک لاندې وه او د بابل واک يې نه مانه هم وځپه او خپل تره يې چې «زداکيه zedakiah» نومېده هلته حکمران وټاکه .
کله چې يې تره ياغی شو بيا ورپسي راغی او د «قدس» ښار يې کلابند کړ او ډېر يهوديان يې بابل ته تبعيد کړل، تقريبا پنځوس کاله، تر هغي چې بابل د کوروش له خوا ونيول شو دوام وکړ.
لومړی نصر بيا هغه څوک دی، چې له لرغونو واکمنو (۱۱۲۳-۱۱۴۶ م ز) دمخه ګڼل کيږي، په بابل يې حکومت کاوه او له اثوريانو سره په جګړه بوخت وو.

په بين النهرين کې د حضرت ابراهيم (ع) پاڅون

د بين النهرين (سومر، اکد، بابل او اشور) وګړو پدې عقيده نه درلوده، چي له مرګ نه وروسته ژوند حق دی. دوئ د بين النهرين په هر ښار کې ځانته ځانګړي رب النوع درلودل، چې موږ مردوک mardok، انو anu، ان ليل enlil، يا ea، اشتيار Ishtar او نور د ساري په توګه يادولی شو چې د اسمان، ځمکی او نورو توکو ستاينه او نمانځنه کوله چې زرګونه کاله د بين النهرين خلکو د دغو ناوړه دودونو او مزدکونو ځارنه او پالنه کوله.
تر هغي چې ابراهيم (ع) خلک د دغو خرافاتو او ناوړه کړو وړو پر وړاندې پاڅون ته راوبلل. ابراهيم د تارخ (چې په ازر مشهور وو) زوی، چې د حمورابی (په بابل کې مخزيږدی ۱۷۵۰-۱۷۹۲ م ز د اموريانو شپږم پاچا) معاصر وو، ( ځنودابراهيم ع۰»دژوند موده ۲۲۰۰مخزيږدي په ګوته کړې ده)د يادو خرافاتو (لکه د بوتانو لمانځل)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېرلو مخکي په ځير و لولئ

پر وړاندې ودرېد، خو د وخت حاکم او خلکو نه یوازې د ده د خبرو پخلی ونکړ، بلکې هغه مهال چې نمرود یان له ښارنه بېرون د جشن په مراسمو کې د ګډون لپاره تللي ول، ابراهیم ټول بوتان مات کړل، یوازی یو غټ بوت یې پرېښود، مانا دا چې دا واړه بوتان د ده له خوا له مینځه تللي دي.
نمرودیان په دې پوه شول چې داکارابراهیم کړی دی نو ده ته یې دجزا لپاره اور بل کړاو دی یې د اور په مینځ کې ایسار کړ، ولې د ښتن تعالی په امر اور ده ته کوم زیان ونه رسوه، بیا یې ابراهیم (ع) له بین النهرین نه وشاړه او بیت المقدس (فلسطین) ته لاړ او هلته یې ژوند ته ادامه ورکړه.
د ابراهیم (ع) پاخون په همدې ځای پایته و نه رسېد، له ده وروسته د ده اولادې هم د بوت نمانځني او بوت پالنی پر وړاندې د هغو مشرکینو پر ضد پاخون وکړ چې دغه ناوړه دود یې پاله.
موږ د ده د اولادې په لړ کې د موسی (ع) یادونه کوو، چې د مصر فرعونیانو پر وړاندې ودرېد.

لرغونی مصر:

مصر (Egypt) د افریقا په شمال ختیځ کې پروت د اسیا وچې ته څېرمه هېواد دی، چې د سویس تنګې په وسیله له اسیا سره نښلي. مصر چې د تاریخ پلار هېرودوت یې د نیل تحفه ګڼي ،همدغه رود چې د افریقا له غرونو (د ویکتوریا جهیل) نه سرچینه اخلي، له سهل نه شمال لور ته بهېږي او په مدیترانه ګډېږي.
د ۱۹ مې پېړی تر پیله پورې د مصر د تاریخ په اړه ډېر معلومات په لاس کې نه وو. وروسته یو شمېر تاریخپوهانو د هېرودوت hero dote (د مخزیږدي پنځمې پېړی تاریخپوه) ، دیودوردوسلی diodereде sicle (د لومړی میلادي پېړی تاریخپوه)، استرابون strabon (له مېلاد نه دمخه د لومړی پېړی تاریخپوه) او د یو شمېر نورو تاریخپوهانو له څېړنو او څرګندونو نه ګټه واخسته او د مصر د لرغوني تاریخ پاڼه یې راواړوله او پدې اړه لاس په کار شول.
کوم څه چې لرغونپوهانو ته ډېر موهم وه هغه یو لرغونی ډبر لیک وو، چې د فرانسې د برید په مهال (۱۷۹۸-۱۷۹۹ ز کال) د یوه پوځي له خوا ، روزیت Rosetta ښار ته نږدی تر لاسه شو. دغه ډبر لیک په هېروغلیف ، د موتیک او یوناني لیکدولونو کښل شوی وو.
شامپولیون Champollion هغه فرانسوي تاریخپوه وه چې له ډېرو هلو ځلو او هاندو هڅو وروسته پدې بریالی شو چې په ۱۸۲۲ کال د هېروغلیف کتیبه ولولي.
له ده وروسته یو شمېر نورو پوهانو هم دارنګه سپړنو ته اوږه ورکړه لکه ماریت Mariette، سیرا پیوم serapeom، ماسپیرو maspero او نور د یادولو وړ دي.
دغواو د دوئ په څېر نورو تاریخپوهانو د کندنو او څېړنو له مخې، چې د نیل شاوخوا ته یې خپلې هڅې پیل کړې، ډېر څه تر لاسه کړل، چې نه یوازې د مصر هېواد ته د پام وړ ول ، بلکې د ټولې نړی لپاره د حیرانتیا،هیښنتیا او ډېرې پاملرنی وړ وګرزیدل.
پدغو کندنو کې د خوبونو تختونه، عراده لرونکې بګی، چوکی، خاورین لوښي، مومیایی شوي جسدونه، ګاڼې، وسلې او لسګونه بېلا بیل توکي ترلاسه شول.
د دغو کندنو او څېړنو له مخې داګیزه شوه، چې له میلاد نه ۶۰۰۰ کاله د مخه د نیل په ښکتني برخه کې یو شمېر اسیایي کډوال چې د سینا صحرا له لارې مصر ته را ننوتل ځای پر ځای شول.
دوی د نیل په غاړه د کرهنې او څارویو روزنې ته مخه کړه او وروړو یې د یوه تمدن بنسټ کېښود.
د یوناني څېړونکو په اند، په مصر کې د یوه دولت بنسټ او جوړښت هغه مهال ایښودل شویدی، چې لا تاریخي دوره نه وه پیل شوی او خلکو د ویالواو کانالونو وېستل پیل کړي وو.
دوئ دوه پلازمېني درلودې، چې د مصر په ښکتني برخه کې د ممفس (Memphis) ښار او په برني مصر کې د تبس (Thebes) ښار وه.
یو امریکایي تاریخپوه «لینتون» پدې اند دی، چې د مصر په ښکتني (مصر سفلی) برخه کې یو واحد دولت له زیږدي نه ۴۵۰۰ کاله د مخه جوړ شو، چې علیا مصر یې هم تر ولکې لاندې وه او بیا له مخزیږدي نه ۴۰۰۰ کاله وړاندې بېرته خپلواک دولت جوړ کړ، خو له میلاد نه ۳۳۰۰ کاله پخوا یې یو ځل بیا د واحد مصر پنوم دولت تاسیس کړ او د یوه پر مختللی مدنیت څښتن ول.
پدغه وخت کې د مصر تولواکمنی د لومړنی سلسلې بنسټ، د« منس »په سلطنت پیل شو چې دغه لړی تر ډېره بریده وغوځېده (۲۲۰۰-۳۳۰۰ مخزیږ دی). د مصر ټولواک د «فرعون» پنوم یادیده، چې خپلې تولواکمنی ته یې د (لوی کورنی) خطاب کاوه.
پدغې تاکلې زمانه کې چې کوم پرمختګونه د مصر په امپراتوری کې مینځته راغلل څو نمونې یې د ساري په ډول د یادولو وړ دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د مالیاتو ټولول که څه هم عادلانه بڼه یې نه درلوده، کرهڼي وده وکړه، ولې ځمکه د فرعونیانو په ولکه کي وه، د اوبو لګولو سیستم جوړ شو، د پوځ پیاوړتیا چې وزیر یې نه یوازې د پوځ مشر وه، بلکې یو ستر قاضي هم وه. د معدنیاتو ایستل په سر کې سره زر او نور پر مختګونه یادولی شو.
د دويم رامسس چې د حضرت موسی (ع)معاصر ده له مړيني وروسته د مصر ټولواکمنی ورورو کمزورې شوه کوم هیوادونه لکه سوریه، فلسطین او د مدیترانې ختیځې سیمې چې د دوئ د امپراتورۍ برخه وه یو د بل پسې پاڅونونو ته لاره پرانسته.
د مصر فرعونیانو نه یوازې په ولسونو راز راز ظلمونه روا ګڼل، بلکې د مصر ارباب الانواع «کاهنانو» او معبدانو هم په چا رحم نه کاوه، چې موږ د «امون دین» پیروان او «اخناتون» Akhenaton پلویان د ساري په توګه یادولی شو.
بیلابیلو ارباب الانواعو د بیلابیلو توکو او شیانو نمانځنه کوله لکه لمر، سپوږمی، ستورو، اسمان، ځمکی، اور، بوټانو، ځاروبیو او نورو ځیزونو.
همدغه ظلمونه ول چې په پای کې موسی (ع) د هغو پر وړاندې پاڅون وکړ. ولې بیا هم په ټوله کی کوم پرمختګونه چې په لرغوني مصر کې رامینځته شول، چې موږ د لیک لوست وسیلې، کاغذ، ادبیات، معماري، لاسي صنایع، کرهنه، د بوټانو جوړول، د ځاروبیو روزل، طب، د مړو مومیایي کول او نور د بیلګې په توګه یادولو وړ ګڼو.
له موسی (ع) نه د مخه هم یو شمیر پیغمبرانو د نمرودیانو پر ضد پاڅون کړي وه، چې موږ دمخه د حضرت ابراهیم (ع) یادونه وکړه.

لرغونی فلسطین:

فلسطین د تاریخ په اوږدو کې د کنعان cannan پنوم هم یاد شویدی. د یو شمیر کندنو له مخې، چې د «جلیل» رود ته څیر مه تر سره شویدي، د داسې انسانانو هډوکي تر لاسه شوی، چې د «نانډر تال Neanderthal انسان زمانه په ګوته کوي، چې له میلاد نه دمخه ۴۰۰۰ کالو ته رسیږي، دغه د نانډر تال انسانانو هډوکي، چې د «حیفا» د سیمی له یوې سموڅې نه تر ګوتو شول نو له مخې ښکاره شوه چې د دې سیمې وګړي اوږد تاریخ لري.
له دې سربیره نه یوازې د دغو کندنو له مخې چې د فلسطین په بیلابیلو سیمو کې تر سره شوې یو شمیر لرغوني توکي موندل شویدی، بلکې له میلاد نه دمخه دا خبره هم ښکاره شوېده چې هغه مهال د دغو وګړو ژبه «سامي» وه.
که له یوی خوا د مصر د ۱۸ مې سلسلې فرعونیانو فلسطین تر ولکې لاندې راووست، خو له بلې خوا په مخزیږدي ۱۴-۱۵ مو پیړیو کې (۱۴۰۰-۱۵۰۰ م ز کالو شاوخوا) د مصریانو له وتلو وروسته عبرانیانو (یهودیان) په فلسطین برید وکړ او له ډیرو وینو تویولو وروسته یې دغه خاوره لاندې کړه.
په «تل العمارته» نومې لیک کې مصر د جبرو gebiru او یهودیا ن یې د عبرو habiru یانې عبرانیان یاد کړیدي.
دوئ هغه وګړي ول، چې د فنقیانو په څیر یې په «سامي» ژبې خبرې کولې.
د تورات د سپیڅلي کتاب له مخې دوی د کلدې «ur» اور ښار، چې د بین النهرین «سومر» دره کې پروت دی اصلي اوسیدونکي دي او د د یعقوب (ع) چې د اسحق (ع) زوی او د ابراهیم (ع) لمسی دی ټبر پورې اړه لري.
هغه مهال چې نمرودیانو ګواښ وکړ، چې ابراهیم (ع) له بین النهرین وباسې، نو ځکه د خدای (ج) پیغمبر له یو شمیر یهودیانو سره بیت المقدس (فلسطین) ته لاړ.
یو شمیر تاریخپوهان پدغه لړکي «ویل دورنت» دغه نیټه له مخزیږدي نه ۲۲۰۰ کاله دمخه ګڼي ، ولې یو شمیر نور پوهان دغه نیټه (۱۷۵۰-۱۷۹۲ م ز) کلونه په ګوته کوي.
هغه مهال چې ابراهیم (ع) له هاجري سره نکاح وکړه (ځکه چې ساره اولاد نه درلود) او اسماعیل (ع) وزیږید نو د مور او پلار سره مکې ته ولیږدید. پلار یې له پنځو کالو وروسته د یوه بل زوی څښتن شو چې د اسحق نوم یې پرې کیښود او له خپلې مور سارا سره په بیت المقدس کې اوسیده.
اسماعیل (ع) د عربو ستر نیکه دي او د پلار له رحلت نه وروسته یې د یهودیانو ټولنیزې چارې بر مخ وړلې، خو له ده وروسته بیا د ده ناسکه ورور اسحاق (ع) دغه چارې په غاړه درلودې.
اسحاق (ع) دوه زامن درلودل چې د یوه نوم یې یعقوب (اسرائیل) او بل یې عیض نومیده. یعقوب (د یهودو یو ستر نیکه دی) ۱۲زامن درلودل، چې یو یې هم یوسف (ع) وه.
په فلسطین کې د سختې وچکالې له امله یهودیان مصر ته کډه شول. پدغه وخت کې د هیکسوس Hyksos ټبر چې په لویه پیمنه کې سامي نژاده وه واک درلود .
هغه مهال چې یوه سوداګر یوسف په مصر کې وپلوره. نو بیا کله چې یوسف (ع) واک ته ورسید خپل پلار او وررونه یې مصر ته وغوښتل د دوم «رامسس» په زمانه [۱۲۳۴-۱۳۰۰ ق م] کې یهودیانو د غلامانو په توګه ستړی ستومانه ژوند درلود او هغه وه چې موسی (ع) (ځنې ۱۵۰۰ ق م ښیي!؟) ظهور وکړ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یوسف (ع) لا پخوا خپل قوم ته دا خبره کړې وه، چې لمانه وروسته به د عمران زوی موسی (ع) راځي ، سره د هغې چې د یهودو ۱۲ ټبرونو د هغه ملاتړ ونه کړ او د خدای (ج) له امر نه یې سر غړونه وکړه. ولې کله چې موسی د ۲۲۶ کالو په عمر و مړ د یوسف (ع) لمسی حضرت« یوشح بن نون » د یهودیانو مشر وټاکل شو.
ده غوښتل چې فلسطین ونیسي، خوله یوې خوا د دوئ د ۱۲ قبیلو تر منځ نا یووالی وه او له بلې خوا د فلسطین د وګړو پیاوړی او ځواکمن مقا ومت وه، چې هغوئ یې په شا وتمبول . ولې دیرلپسې جګړو اوبریدونوله امله د ۱۱۵۰مخزیږدی په شا وخوا کې د اردن رود یوه سیمه، چې «یریح yerieh» نومېده ونیوله ،تر هغې چې یهودیان یې په فلسطین کې ځاي پرځاي کړل.
له اوږدو جګړو وروسته د ۱۰۲۰ م ز کال په شاوخوا کې د یهودو«یامین »د قوم یو مشر چې شائول shawl نومېده او عربو ورته «طالوت» وایه د یوه حکومت بنسټ کېښود، خو ډېر ژر د فلسطین له خوا ووژل شو.
له پرلسپې جنګونو وروسته د یهودو قبیلې یو تن حضرت داود (ع) ټول اسرائیل (۱۲ قومونه) په ځان راټول کړل او د فلسطین په خاوره د یوه حکومت بنسټ کېښود ا ود «آ ورشیلم» ښاریې خپل مرکز وټاکه.
داود (ع) لومړی یو پیاوړی پوځ جوړ کړ او د هغه پر مټ یې د (۱۰۰۰ م ز) کالو په شاوخوا کې د فلسطین حکومت نسکور کړ. دده له ۴۰ کالو سلطنت وروسته زوی یې سلیمان (ع) د (۹۳۵ م ز کال) شاوخوا کې د یهودیانو مشر وټاکل شو.
د ده د واک په مهال چې کوم پرمختګونه مینځته راغلي دي، ځو بېلګې یې داسې دي:
- د احمر په سمندر ګی د سوداګریزوبېړیوتګ و راتګ.
- له مصر، فنقیانو او نورو ګاونډیو سره د تجارتي اړیکو پراختیا.
- سلیمان پیغمبر یهودیانو ته یو لوی معبد جوړ او اباد کړچې د اور شلیم معبد پنوم نامتو دی چې اوس د اقصی جومات پنوم یادیږي.
- پدغې ودانی کې د سرو او سپین زرو کټوري، قیمتي ډبرې، د ځلوېښتو په شاوخواکې رنګا رنګه ختین ځراغونه او نور قیمتی توکي لګولي دي، چې په هغه وخت کې ساری نه درلود.
- د هغه وخت د یوه نوي قانون جوړول او نور پرمختګونه یادولی شو.
په ټوله کې د یهودیانو د مدنیت ډېرې موهمې سرچینې، چې د پوهې دیني زده کړو او ټولنیز ژوند لپاره یې ډېر ارزښت درلود هغه د تورات او زبور کتابونه ول، چې انسانان یې د واحد خدای (ج) عبا د ت ته رابلل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ